## د خلافت بیا راتګ ولې د اوسني وخت تر ټولو مهمه اړتیا ده؟

وستی اسلامي دولت د ۱۳۴۲ هـ.ق د رجب میاشتې پر ۲۸مه سقوط شو، چې په پایله کې یې مسلمانانو د نړۍ په کچه خپل سیاسي او فکري یووالی له لاسه ورکړ. دغه امر د دې لامل شو چې مسلمانان له فکري ـ سیاسي انحطاط او وروسته پاتې کېدو سره مخ شي. څنګه چې د اسلامي دولت تر نسکورېدو وروسته لودیځ هېوادونه (اروپا، شوري او امریکا) پر اسلامي امت واکمن شول او د ټوپک او کورنیو جګړو په وسیله یې خپل ارزښتونه او نړۍ لید اسلامي خاورو ته دننه کړ. له بل لوري، د غیر اسلامي ارزښتونو لکه د دولت ـ ملت مفکورې پراخوالی په اسلامي امت کې د فکري ـ سیاسي ژور درز او بېلتون راپیداکېدو لامل شو؛ چې اسلامي امت تر اوسه له سیاسي، فکري او ټولنیز کړکېچ سره مخ دی.

نړۍ د اسلامي دولت تر نسکورېدو وروسته د ډیموکراسۍ، پانګوالۍ او جمهوریت غوندې بشري نظامونو منګولو ته ولوېده، چې بشریت یې له بې مخینې ناورین او غمیزې سره مخ کړی دی. څنګه چې په غربي هېوادونو کې د داسې نظامونو پلي کېدل د دې لامل شوي، چې د انسانانو او الله سبحانه وتعالی تر منځ اړیکې پیکه شي. د دغو بشري نظامونو نشت ټول انسانان له ډول ډول رواني ناروغیو، د ټولنیزو اړیکو نه پاللو او د روحي ارامتیا له نشت څخه بې برخه کړي او ترې ځورېږي.

دې پدیدې په غربیانو کې تر دې کچې وده کړې چې هغوی یې دې ته اړ کړي، څو په بدیلې لارې غور وکړي او خپل ځانونه له دې بې شرمۍ څخه وژغوري. پر همدغه بنسټ، له عامو خلکو نیولې تر غربي پانګوالو او روڼ اندو، چې د دغه نظام په رحم کې رالوی شوي، نن ورځ د اوسني پانګوالي نظام د بنسټیز بدلون په هڅه کې دي. د هغوی له ډلې د یو امریکایي میلیاردر په وینا، چې پانګوالي نظام ښه پېژني او ژوند یې د همدغه نظام تر چتر لاندې تېر شوی، مارک بیني اف نومېږي. دغه میلیاردر د سلسفورس شرکت رییس دی، چې څه موده وړاندې یې له نیویارک ټایمز ورځپاڼې سره په خبرو کې داسې وویل: «د یو پانګوال او کپټلېسټ په توګه دې پایلې ته رسېدلی یم، څنګه چې تاسو هم پرې پوهېږئ او اړ یو چې اعتراف پرې وکړو؛ هغه دا چې پانګوالي یا سرمایه داري له دې وروسته له منځه وړل کېدو او مړینې سره مخ ده.» د حیرانتیا ځای خو دا دی چې لودیځوال او غربیان په اوسني نظام کې په ځواب ورکولو کې پاتې راغلي او د بدلون او تغیر په هڅه کې دي؛ خو مسلمانانو د الله سبحانه وتعالی پر رسۍ یعنې پر دین منګولې لګول پرېښې او د هغوی د ناوړه نظام پاللو په لټه کې دي.

مسلمانان نور باید پخپلو هېوادونو کې د پانګوالي نظام د اوسنیو بدبختیو لیدونکي نه شي. مسلمانان باید د دغو زهرو له شخوند وهلو ډډه وکړي او د الله سبحانه وتعالي پر رسۍ یعني دین باندې منګولې ټینګې کړي؛

ځکه د داسې نظام دوام په مسلمانانو کې د ژور درز راپیدا کېدو او له الله سبحانه وتعالی سره د هغوی د اړیکو پرېکېدو لامل کېږي. موږ وینو چې د غرب اوسنی نظام د بدبختۍ په کنده کې لوېدلی دی.

له بل لوري، وینو چې نه یوازې انسانان، بلکې ځمکه، اوبه، هوا او چاپېریال هم د شته ناوړه بشري نظام په وسیله استثمار شوي دي. د هغوی شکایت له الله سبحانه وتعالی پرته بل هېڅوک نه اوري. همدارنګه ځاروي، نباتات او الووتونکي هم د پلي کېدونکو بشري نظامونو له شر څخه په امن کې نه دي. نو پر همدغه اساس، ویلی شو چې که دغه بشري نظام په همدې ډول دوام وکړي، لېرې نه ده چې انسانان به هم په وحشتناکو کانیبالونو بدل شي او د نورو انسانانو د خوښو خوړل به پیل کړي.

بشر نن ورځ تر بل هر وخت اړتیا لري، څو الله سبحانه وتعالی ته مراجعه وکړي، ځکه د الله سبحانه وتعالی له مرستې او لارښوونې پرته به انسانان خپله ځانونه له منځه یوسي. موږ وینو چې د کورونا وېروس (کویډ۱۹) په درملنه کې بشر څنګه پاتې راغلی دی. دغه ناروغي د امریکا جمهور رییس ډونالډ ټرمپ او د وخت تر ټولو ستر فراعنه دې ته اړ کړ، څو هغه کلیسا ته ولاړ شي او دعا وکړي. نو ایا د الله سبحانه وتعالی له غوسې او قهر څخه نه وېرېږئ؟

باید دا څرګنده کړو، چې د انسانانو لپاره د خلاصون او ژغورنې لاره همدا ده چې له الله سبحانه وتعالی سره دښمني پرېږدو، پر ځای یې د الله سبحانه وتعالي پر دین منګولې ټینګې کړو، څو مو نېکمرغي په برخه شي. ځکه تاریخ ثابته کړې، چې انسانان یوازې د الهي رحمت په پایله کې کولی شي ارامي، سکون او په پایله کې نېکمرغي تر لاسه کړي. دغه امر د نبوت پر تګلاره د اسلامي دولت له لارې د شرعي احکامو په پلي کېدو سره تر لاسه کېدونکی دی. ځکه غربیانو هم دا منلې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تر ټولو غوره تګلاره (سیاست کول او دولتداري) بشر ته په میراث پرېښې ده. په وروستیو کې باید په څرګند ډول ووایو چې په اوسني وخت کې ۹۰ سلنه شرعي احکام له پلي کېدو پاتې دي، چې په پایله کې یې نه یوازې مسلمانان، بلکې د نړۍ ټول انسانان له بې شرمه ژوند او نامعلوم برخلیک سره مخ دي. نو پر همدغه اساس، یوازې د نبوت پر تګلاره اسلامي دولت د شرعي احکامو د پلي کېدو وړتیا او د اوسنیو حکامو پاتې راتلو ته ځواب وایي. هغه مسلمانان چې د ډیموکراسۍ له کلکین څخه د اسلامي شریعت د پلي کېدو غوښتونکي دي، دوی تېروتنه کړې ده.

نو پر همدغه اساس، ټول مسلمانان او په ځانګړي ډول د افغانستان مجاهد خلک، علما، د قومونو مشران، متنفذین او ځوانان اړ دي، څو یو بل ته لاسونه سره ورکړي او د فرضونو مور (اسلامي دولت) بیا ځلي تاسیس کړي. ځکه یوازې اسلامي دولت د نړۍ اوسنیو ستونزو ته د رسېدو، د رواني ناروغیو د درملنې او د سیاسي او اقتصادي بې ثباتۍ د له منځه وړلو وړتیا لري او ځواب ورته ویلي شي.

**لیکوال: مسلم بغلان**

**ژباړه: بهیر (ویاړ)**